# د هغه له مال څخه په مناسب ډول دومره واخله چې تاسو او ستا کوچنیانو ته بسنه وکړي

له ام المؤمنين عائشة رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: د ابو سفيان مېرمن؛ هند بنت عتبة د رسول الله صلى الله عليه وسلم حضور ته ورغله او ويې ويل: اې د الله رسوله! ابو سفيان يو بخيل سړی دی، ما او زما بچيانو ته دومره نفقه نه راكوي چې بسنه وكړي، مګر دا چې د هغه له مال څخه د هغه له پوهې پرته واخلم، آيا پدې كې زما لپاره كومه ملامتيا شته؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:«د هغه له مال څخه په مناسب ډول دومره واخله چې تاسو او ستا كوچنيانو ته بسنه وكړي».

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

هند بنت عتبة رضي الله عنها له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د خپل مېړه ابو سفيان رضي الله عنه په اړه پوښتنه وكړه، چې هغه يو بخيل سړی دی او په خپل مال ډېر حريص دی او هغې ته دومره نفقه نه وركوي چې هغې او كوچنيانو ته يې بسنه وكړي، مګر دا چې هغه يې د هغه له مال څخه په پټه د هغه له خبرتيا پرته څه واخلي، نو آيا په دې كې پر هغې كومه ګناه شته؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د هغه له شتمن څخه د ځان او خپلو ماشومانو لپاره دومره اندازه واخله چې په دوديز ډول كافي ګڼل كېږي، حتى كه د هغه له پوهې پرته وي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2965